مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۶/۱۱/۱۴

محمدسمیع صادق

او

په پښتوهنري نثر کې د یونوي ژانر ایجاد

دویمه‌برخه



تر هغه ځایه چې محمدسمیع صادق ما مطالعه کړی دی او په میډیا کې یې کارونه زما له نظره تیرشوي دي، زه دې پایلې ته رسېدلی‌یم چې سمیع صادق د فرهنګي کارونو په لاندې ډګرونو کې فعاله دی او عملاً یې خپل فرهنګي تولیدات له خپلو مخاطبینو سره شریک کړي دي:

۱ ـ د هنري نثر په برخه کې:

الف: قصه په سلو ټکو کې، چې زه «لنډۍکیسه» ورته وایم،

ب ـ لنډه کیسه،

ج ـ ادبي‌ټوټه،

د ـ «زما دایري او...» ترسرلیک لاندې د سمیع صادق یادداښتونه:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۲ ـ د شعر په برخه کې،

۳ ـ د ژباړې په برخه کې،

۴ ـ د ژورنالیزم په برخه کې،

۵ ـ د تعلیم او ښوونې او روزنې په برخه کې.

اوس به د ښاغلي محمدسمیع صادق د فرهنګي شخصیت پر یادو برخو باندې لنډې خبرې وشي او د امکان تربریده پورې به د ده د هر فرهنګي فعالیت بېلګې هم وړاندې شي:

۱ ـ د هنري نثر په برخه کې:

الف: قصه په سلو ټکو کې (لنډۍکیسه):

کوم څه چې ښاغلي سمیع صادق د «قصه په سلوټکو کې» په قالب کې وړاندې کوي، زه یې په هنري نثر کې یونوي ژانر ګڼم او د «لنډۍکیسه» نوم ورته کاروم. دا یونوښت دی، نوښتګر یې ښاغلی سمیع صادق دی، زه ده ته د دې نوښت مبارکي وایم. تراوسه یې ګڼې بېلګې زما له نظره تېرې شوې دي چې څو بېلګې به یې دلته تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړم.

ما په خپل پنځوس‌کلن فرهنګي یون کې دومره لنډ نثر چې په هنري ډول لوی مطالب راونغاړي، نه و لیدلی، یوازې د روس ر ستر لیکوال لیف تلستوی چې ناولونه به یې په سلګونو او لا رزکونه مخونه و د «مور» په باب ډېر یو لنډ نثر لیدلای و چې چا پښتو ته راژباړلی و، نور مې څه نه و لیدلی، خو اوس دا دی سمعیع صادق دا کار وکړ او ښه په خوند یې پیل کړی دی.

اوس دا دی پرمور باندې خدای یونوي ژانر یعنې «لنډۍنثر» یا «لنډۍکیسه» (قصه په سلوټکو کې) ولوراوه چې ایجادونکی یا نوښتګر یې ښاغلی محمدسمیع صادق دی. صادق چې هره «لنډۍکیسه» لیکي، ترسرلیک لاندې یې د «کیسه په سلوټکو کې» قید هم لیکي.

په «لنډۍکیسه» کې لیکوال د لنډو کلماتو او جملو په چوکاټ کې یوذهني مفهوم لیږدوي، په دواړو قالبونو کې د شاعر او هنري نثر لیکونکي کمال دا دی چې خپله محتوی د هنر په خُم کې رنګوي او د هنري انځورونو په دایره کې یې خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي.

د ښاغلي محمدسمیع صادق «قصه په سلو ټکو کې» ته زه په پښتو هنري نثر کې وروسته له لنډې کیسې څخه یو نوی ژانر وایم چې د ښاغلی سمیع صادق په نوښت رامنځته شوی دی. ځنګه چې په شعر کې د «لنډشعر» ابداع شو، دغسې په اوسنیو وختونو کې د لوستونکو د وخت د کموالي له پاره چې د اوږدو کیسو د لوستلو له پاره یې نه لري، لیکوال سمیع صادق دا نوښت کړی چې د یوې لنډې کیسې مفهوم یې د سلوټکو په لنډ قالب کې ځای کړی دی او د همدې لنډنثر په چوکاټ کې خپله کیسه لوستونکو ته په مخکې ږدي. زه یوځل بیا ښاغلي محمدسمیع صادق ته د پښتو هنري نثر په تاریخ کې د دې صنف د ابداع مبارکي وایم او هیله ځرګندوم چې همداسې بریالی په کې روان وي.

زه (آصف بهاند) د خپل میډیایي کار په موده کې ښایسته ډېر کلونه کیږي چې په افغان جرمن پورتال کې د ادبیت، سمونې او انلاین کولو دنده لرم. یو ځل داسې هم وشول چې په یاد پورتال کې نورو همکارانو ماته د ښاغلي محمدسمیع صادق «قصه په سلو ټکو کې» مطلب راولېږه چې زه یې وګورم. ما چې دا مطلب ولوست، زه حیران ځکه شوم چې لیکوال توانیدلی و چې سین په کوزه کې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځای کړی. د یوې لویې کیسې مفهوم یې د سلو ویینو په قالب کې په هنري ډول خپلو لوستونکو ته وړاندې کړی و. همالته و چې ما هوډ وکړ چې زه به د ښاغلي سمیع صادق او د ده د نوي ادبي ژانر (قصه په سلوټکو کې) په باب یوځه لیکم.

زما له نظره تراوسه د محمدسمیع صادق د ګڼو «لنډۍکیسه» بیلګې تېرې شوې دي، چې د ځینو سرلیکونه یې دا دي:

ـ مکتب،

ـ خدای،

ـ ماته رادیو،

ـ بایللې ښکلا،

ـ ښرا،

ـ جانباز او باز،

ـ د یتیمو شونډو قصه،

ـ خارج،

ـ د ګنګا پر غاړه،

ـ د انتظار خیمه،

ـ آمینونه،

ـ د طبقو باچا،

ـ درناوی،

ـ ژوندی نوم،

ـ انسان،

ـ د پځلنځيلوړه،
ـ تابلو.

د محمدسمیع صادق لنډۍکیسه، که په دقت سره ولوستل شي، دی په دې نثر کې داسې انتقادي ژبه کاروي چې په هنري پرده کې یوازې په څو جملو کې داسې یو نقد کوي چې یوعیني واقعیت وي او دی یې په هنري ژبه بیانوي او بیا په یوه جمله کې د انتقاد توره پسې راباسي او پر هغه ځای وار کوي چې د چا ورته پام هم نه وي. د هنري جملو په چوکاټ کې، پرټولنیزو نیمګړتیاوو باندې د ده ځینې نقدونه دومره ژور دي چې: «... در مغزاستخوان به خدا کار می‌کند.»

د ساري په ډول په «درناوی» نومي نثر کې دا پیام لېږدول کېږي چې ظاهراً به ښاروال صاحب؟ د درناوي وړ وي، خو سپی ځکه ورته بې احترامي کوي چې د سپي همنوعان یې وژلي دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د «آمينونه» په نامه لنډيکيسه کي د ليکوال ښاغلي محمدسميع صادق اصلي موخه دا ده چي پرتولنه باندي او د خلکو پر افکارو باندي حاکم طرز تفکر ته د انتقاد ګوته نيسي او دا ښيي چي څومره سلنه خلک په داسي کارونو باندي بوخت دي چي هيڅ ګټه هم نه لري او ياد خلک هسي خپل وخت ضايع کوي.

نوربيا

د ليکوال نوري ليکني په لاندي لينک کي لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ